## په قزاقستان کې سیاسي عواقب

**پوښتنه:**

په قزاقستان کې د مایع ګاز بیه دوه چنده او بیا ناڅاپه نوره هم لوړه شوه ... روسیې په قزاقستان کې وروسته له هغې د «ګډ امنیتي تړون سازمان» په نامه مداخله وکړه چې ولسمشر قاسم جومارت توکایف په خپل هېواد کې د لاریونونو د درولو لپاره د مرستې غوښتنه وکړه ... روسیه، بهرني ځواکونه، په ځانګړې توګه امریکا تورنوي چې د دې هېواد په چارو کې لاسوهنه او لاریونونه کوي. دا هم ویل شوي چې د ملي امنیت د کمېټې رییس د کودتا په پلانولو تورن شوی. د دغو لاریونونو شالید څه دی؟ روسیې ولې د «ګډ امنیتي تړون سازمان» په نامه دومره چټکه مداخله وکړه؟ په دې اړه د امریکا دریځ څه دی؟

**ځواب:**

د پورتنیو پوښتنو د ځوابولو لپاره لاندې مسایل روښانه کوو:

۱ـ قزاقستان په منځنۍ اسیا کې د لویدیځ ترکستان د یوې برخې په توګه یو لوی اسلامي هېواد دی چې مساحت یې له ۲،۷ میلیونه کیلومتر مربع اوړي؛ خو نفوس یې د مساحت په پرتله کم دی او ۱۹ میلیونو ته رسېږي. مسلمانان پکې ډېر دي او سلنه یې له ۷۵ زیاته ده. په قزاقستان کې د روسیې لوی اقلیت شته چې ویل کیږي د دوی د نفوس ۲۰ سلنه یا ۳،۵ میلیونه جوړوي. دا هېواد روسیې ته له اقتصادي او جیو پولیټیک اړخه مهم دی. قزاقستان په ۱۹۹۱ کال کې تر خپلې خپلواکۍ پورې -د شوروي اتحاد په وخت کې- د روسیې تر مسقیم کنټرول لاندې و. دا هېواد له روسیې سره اړیکې او ګډ امنیتي تړونونه لري؛ لکه د سازمان تړون او د شانګهای تړون. د روسیې فضایي ډګر، چې فضایي بیړۍ ترې توغول کېږي، د قزاقستان په بایکونور کاسموډروم کې دی. روسیې د قزاقستان د شتمنۍ لویه برخه اداره کوله. قزاقستان د تېلو بډایه سرچینې لري چې د دې هېواد د ناخالصو تولیداتو ٪۲۱ جوړوي او هره ورځ تر ۱،۵ میلیونه زیات بیرله تیل تولیدوي.

قزاقستان په نړۍ کې د یورانیمو تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد دی. دغه اسلامي هېواد ۱،۵ میلیونه ټنه یورانیم لري. همداراز لویه کچه منګانیز، اوسپنه، کرومیم، د ډېرو سکاره او طبیعي ګاز لري. تر اوسه شاوخوا دوه ټریلیونه متر مکعبه طبیعي ګاز پکې کشف شوی. ځکه خو روسیې ته ډېر مهم دی، له اوکراین وروسته دویم ځای ورته لري او د پخواني شوروي اتحاد د نفوذ مهمه سیمه یې ګڼي. روسیه خپل استملاک ته د دوام ورکولو لپاره خپله ټوله هڅه کوي چې په اوکراین کې پېښه شوې کیسه تکرار نه شي! دا چې قزاقستان هم د اوکراین په څېر په رینښتیا خپلواک نه شي.

۲ـ امریکا هم د قزاقستان اهمیت درک کړی، ځکه چې موقیعت یې مهم دی؛ له روسیې سره په جنوبي پولو او له چین سره په لویدیځو پولو کې واقع دی. له همدې امله امریکا په دې هېواد کې د خپل نفوذ پراخولو په لټه کې ده. امریکا په دې کار سره د چین پر محاصره سربیره، روسیه هم له سیمه ییز نفوذ څخه بې برخې کوي. د روسیې له لاسونو څخه د قزاقستان وتل ښایي د منځنۍ اسیا په نورو هېوادونو کې هم د روسیې نفوذ ختم کړي.

د امریکا دغه لیوالتیا د قزاقستان د خپلواکۍ له اعلان وروسته را څرګنده شوه؛ امریکا لومړی هېواد و چې د قزاقستان خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله؛ وروسته قزاقستان ته امریکایي شرکتونو راغلل او د دغه هېواد د تیلو او ګازو د صنعت ډېره برخه یې په لاس کې واخیسته. مثلاً شیورون امریکایي شرکت د تنګیز د تیلو ۵۰ سلنه برخه ترلاسه کړه، چې د قزاقستان هېواد د کلني تولید درېمه برخه جوړوي. اروپایي شرکتونو هم د قزاقستان د انرژۍ د سرچینو د یوې برخې اخیستل پیل کړل. ویل کېږي چې [ د قزاقستان د انرژۍ لکه تیلو او ګازو د صادراتو ۹۰ سلنه، یعنې نیږدې ټول یې د امریکا او اروپا د تیلو لویو شرکتونو، ویسترن کپیټل لخوا محدود او د دوی ملکیت شول. Russian Sputnik Agency) [ 8/1/2022)

د امریکا هڅې یوازې د تیلو او ګازو په شرکتونو پورې محدودې نه وې، بلکې د نظربایف د ادارې پر مهال یې ځینې پوځي تړونونه هم لاسلیک کړل، نظربایف له ۱۹۸۹ کال راهیسې واکمن و او د ۲۰۱۹ کال په مارچ میاشت کې یې استعفا ورکړه؛ وروسته د ده د ځای ناستي پر وخت هم امریکا پوځي تړونونه ورسره لرل؛ خو له روسیې سره د دوی نیږدې اړیکو د امریکا د اغېزمنو پوځي تړونونو د ترلو مخه ونیوله.

امریکا له خپلو هڅو نهیلي نه شوه. د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ کې د امریکا د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال جوزف ووټل د امریکا سنا ته د امریکا او قزاقستان د اړیکو په اړه وویل: [دا په منځنۍ اسیا کې تر ټولو پخې اړیکې ګڼل کیږي] (الجزیره). د امریکا او قزاقستان د پوځونو ترمنځ اړیکې د دواړو هېوادونو د دوه اړخیزو اړیکو یو مهم اړخ جوړوي. له ۲۰۰۳ راهیسې، قزاقستان د څو اړخیزو نظامي تمرینونو کوربه توب کړی؛ یو یې د ۲۰۱۹ په جون کې د قزاقستان په سویل ختیځ کې ترسره شو چې امریکایي ځواکونو هم برخه پکې اخیستې وه. که څه هم تقریباً دا تمرینونه عادي وو؛ خو په قزاقستان کې د امریکا د ګټو ښکارندویي کوي له شک پرته روسیه له دې ګټو وېرېږي.

۳ـ د روسیې وېره هغه وخت زیاته شوه چې دغه لاریونونه ناڅاپه پراخ شول. څنګه چې ښکاري؛ دا پیښې په ۲۰۲۲ـ۱ـ۵ نېټه د هېواد په لوېدیځ کې د زنازین او اکتاو ښارونو د اوسیدونکو له خوا د مایع ګازو د بیو د دوه برابره کېدو پر وړاندې لاریونونو سره پیل شوې؛ دا لاریونونه پراخه او نورو ښارونو ته ورسېدل. ویل کېږي چې په الماتا ښار کې یې د ولسمشر د استوګنې ودانۍ او ښاروالۍ ودانۍ ته اور ورته کړی. الماتا د هېواد پخوانۍ پلازمېنه او تر ټولو لوی ښار دی او له

خورا مهم سوداګریزو ښارونو ګڼل کېږي. د روسيې سپوتنيک اژانس راپور ورکړی چې امنيتي ځواکونو د پلازمينې ودانۍ، نور سلطان (پخوانۍ استانه) شاوخوا امنيت ټنګ کړی او د پلازمينې لوی شمېر اوسيدونکي له بانکونو څخه د خپلو پيسو ايستلو لپاره راوتلي. د انټرنيټ بندولو له امله غير نغدي تاديات بند شوي دي. سميه ييزو رسنيو راپور ورکړی چې په ختيځ بلخش سيمه کې د کان کيندنې کارګران له لاريونونو سره يوځای شوي او کار يې بند کړی دی. په دې توګه لاريونونه په تاوتريخوالي بدل شول... په انقره کې د قزاقستان سفير د خپل هېواد د پېښو په اړه تبصره کې وويل: [د لاريونونو پيل د ښه ژوند د شرايطو غوښتنه او د ګازو بيې د زياتوالي مخالفت و.. الماتا ښار ته له تګ وروسته يې بله لار غوره کړه او سوزونې او ناقانوني کړنې وشوې. (انادولو اژانس ۲۰۲۲ـ۱ـ٦)] په ۲۰۲۲ـ۱ـ۵ نېټه د قزاقستان د حکومت استعفا په دې هڅه وشوه چې وضعيت ارام او د مايع ګاز بيې ټيټې کړي؛ خو لاريونونه بند نه، بلکې لا پراخ شول!

۴ـ دغه پراخوالي روسيه وهڅوله چې تر قزاقستان مخکې دوه اړخونو تورن کړي:

لومړی اړخ:

الف ـ د دې تر شا انګيزه دا وه، چې داسې خبرونه خپاره شوي وو چې ځينې امنيتي کسان د لاريونونو او ګډوډۍ په اړه سترګې پټوي؛ د دې تورونو ګوته د ملي امنيت کميټې رييس، کريم ماسيموف لوري ته وه. دی په هېواد کې د امنيت د ټينګښت مسوليت لري. ويل کېدل چې دې کس د واک ترلاسه کولو لپاره له وضعيت څخه ګټه پورته کړې. له همدې امله، په ۲۰۲۲ـ ۱ـ ۸ نېټه له دندې ګوښه او په خيانت تورن شو. د قزاقستان د ملي امنيت کميټې اعلان وکړ چې خپل پخواني مشر، کريم ماسيموف يې د خيانت په تور نيولی. د ملي امنيت د کميټې د بيان له مخې: [ د روان کال د جنورۍ په شپږمه، د ملي امنيت کميټې د قزاقستان جمهوري رياست د جزا قانون د لومړي برخې د ۱۵۷ مادې له مخې د ستر خيانت د محاکمې په موخه څېړنې پيل کړې. (RT 8_1_2022)]

ب ـ وروسته د قزاقستان ولسمشر قاسم توکايف د روسيې په مشرۍ ګډ امنيتي تړون سازمان څخه د مداخلې غوښتنه وکړه او ويې ويل: [«هېواد مو له ترهګريز بريد او د بهرنيو وسله والو په ګډون يوه منظم او پلان شوي تيري سره مخ دی.» هغه زياته کړه: «د ترهګرو لخوا د تاوتريخوالي د کړنو په پايله کې ګڼ شمېر امنيتي ځواکونه او ملکي وګړي قرباني شول، شاوخوا ۱۳۰۰ سوداګريز تاسيسات زيانمن شوي، له ۱۰۰ زيات سوداګريزو او بانکي مرکزونه باندې بريد شوی، د پوليسو ۵۰۰ موټر سوځول شوي، او د زيانونو کچه له ۲ تر ۳ ميلیارده ډالرو پورې رسېږي» هغه زياته کړه، د لس زره کسانو د نيولو او د ثبات د ټينګښت اعلان يې کړی، د ترهګرو د ګوانښونو مرکزونه له منځه وړل شوي او د وسلو او مهماتو د زېرمه کولو مهم ستراتيژيک تاسيسات او ځايونه نيول شوي دي او خوندي دي». [Russia Today 10/1/2022]

ج ـ په دې توګه د قزاقستان ولسمشر توکایف له روسیې د مداخلې غوښنه وکړه او روسانو په چټکۍ ځواب ورکړ؛ لکه له غوښتنې مخکې یې چې د مداخلې پرېکړه کړې وي! نو دوی د ګډ امنیتي تړون سازمان له لارې په قزاقستان کې پوځي مداخله پیل کړه؛ دا سازمان په ۱۹۹۲ کې تاسیس شو. لومړی پوځي کنډک په ۲۰۲۲ـ۱ـ٦ کې ورغی... (الجزیره نېټ ۲۰۲۲ـ۱ـ٦). په راتلونکو دوو ورځو کې ۲۵۰۰ پوځیان له خپلو تجهیزاتو او پوځي وسایطو سره د هوا له لارې ولېږدول شول. په دې بیړني ماموریت کې تر ۷۰ زیاتو روسي پوځي کارګو الوتکو برخه اخیستې وه، چې په دې کې له ارمنستان او قرغزستان څخه قزاقستان ته د سرتیرو استول هم شامل وو؛ په دې اړه توکایف وویل: [زه د روسیې له ولسمشر پوتین څخه ځانګړې مننه کوم چې زما غوښتنې ته یې چټک ځواب ووایه.. [Russia Today 7/1/2022]

له هغه وروسته پوتین په ۲۰۲۲ـ۱ـ۱۰ نېټه د ګډ امنیتي تړون د سازمان د امنیت شورا په ویډیو کنفرانس کې وویل: «ځینې بهرني او داخلي قوتونه د خپلو موخو تر لاسته کولو لپاره د قزاقستان له اقتصادي وضعیت څخه ګټه پورته کوي. د ګډ امنیتي تړون سازمان وکولای شوی چې په قزاقستان کې د وضعیت د خرابېدو د مخنیوي لپاره مهم ګامونه پورته کړي، ما په خپل وخت لازم تصمیم نیولي او د ولسمشر په غوښتنه به دا ځواکونه تر یو وخته هلته مېشت وي. په قزاقستان کې داسې پېښې نه لومړنۍ دي او نه به د بهرنۍ لاسوهنې لپاره وروستۍ وي، د ګډ امنیتي تړون سازمان غړو هېوادونو څرګنده کړه چې دوی به رنګینو انقلابونو ته اجازه ور نه کړي او په قزاقستان کې وروستۍ پېښې دا تاییدوي چې ځینې قوتونو په ډاډ سره د سایبر سپیس او ټولنیزې شبکو له لارې د جګړې لپاره وحشتګر، ترهګر او سلیپر سیل (هغه ترهګر چې د عامو خلکو په منځ کې عادي ژوند کوي) ګومارل.[Russia Today 10/1/2022]

دویم اړخ، بهرنی اړخ:

پوتین که څه هم د دغه سازمان د ګډ امنیتي کنفرانس په ترځ کې ښکاره نه دي ویلي چې امریکا له دې سره تړاو لري؛ خو له خبرو یې واضح ښکاري. هغه څه چې روسي رسنیو یې راپور ورکړی، مخکې له دې چې دا تفاهم تایید کړي، دوی په لاریونونو کې د امریکا د فرض شوي رول په اړه خبري وکړې. دا د سپینې ماڼۍ د ویاند جین ساکي غبرګون هم تایید کړې؛ ده د روسي رسنیو د دغو راپورونه په اړه چې د قزاقستان په پېښو کې امریکا ښکېله ده، وویل: «د روسیې لخوا لیوني تورونه دي»، دی ټینګار کوي چې دا تورونه «په بشپړ ډول ناسم» دي او د « روسیې د ناسمو معلوماتو ستراتیژۍ» ښیي. [The Independent Araba, 7/1/2022]

د ګډ امنیتي تړون سازمان له لارې د روسیې د مداخلې د توجیه کولو لپاره، د دغه سازمان اوسني مشر، د ارمنستان لومړي وزیر نیکول پاشینیان، تایید کړه چې (دې ایتلاف د بهرنۍ لاسوهنې په پایله کې غوښتنې ته ځواب ووایه). [The Independent Araba, 7/1/2022] په بل عبارت، دا ټولې څرګندونې د دې ښکارندویي کوي چې قزاقستان چې تر

شا یې روسیه ده، داسې انګیري چې دا پیښې یوازې د داخلې لاملونو له امله نه دي، بلکې امریکا هم پکې ښکېله ده... په دغو پیښو کې د امریکا لاسوهنه د امریکا د لاندنیو څرګندونو له کتنې څخه معلومیږي:

الف ـ بلینکن له خپل قزاق سیال سره د ټلیفوني خبرو په ترځ کې وغوښتل چې په قزاقستان کې د کړکیچن وضیعت لپاره سوله‌ییز حل ومومي او د رسنیو ازادۍ ته درناوی ورکړي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو ویاند نېډ پرېس وویل چې، «بلینکن د قزاقستان د بنسټونو لپاره د متحده ایالاتو په بشپړ ملاتړ ټینګار وکړ او د کړکیچ د سوله‌ییز حل او حقونو ته د درناوي غوښتنه یې وکړه.» هغه وویل، «امریکا په قزاقستان کې د پېښو په اړه اندېښنه لري، خو باوري دی چې جمهوریت یې د ګډ امنتي تړون سازمان له مرستې پرته حلولی شي. (AFP 6/1/2022)

بلینکن پر لاریون کوونکو د ډزو په اړه د قزاقستان د ولسمشر قاسم توکایف د څرګندونو په اړه تبصره وکړه: « زه د دغو خبرو مخالف یم او که دا ملي پالیسي وي، زه یې غندم.» (CNN 9/1/2022). د قزاق ولسمشر روښانه کړه: «ما له لومړي اخطار ورکولو پرته پر ترهګرو د ډزو امر صادر کړ» ده زیاته کړه: « د الماتا ښار په برید کې ۲۰ زره ترهګرو برخه اخیستې وه».

ج ـ امریکا له قزاقستان څخه  د روسي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل: « که قزاقستان پر خپلو ژمنو درېږي نو CSTO  ځواکونه دي سمدستي له قزاقستان څخه ووځي... د دوی شتون پوښتنې را پورته کوي.» [RIA Novosti 11/1/2022]

دا ټول د روسي ځواکونو له راتګ سره امریکا مخالفت ښیي او غواړي چې د روسیې له مداخلې پرته دې ستونزې هوارې شي او د لاریون کوونکو پر وړاندې دې له تاوتریخوالي کار نه اخلي. امریکا په دې پوه ده چې په قزاقستان کې د روسیې شتون د روسیې له رژیم سره د قزاقستان اړیکې پیاوړي کوي... امریکا په دې پېښو کې د لاسوهنې تورونه رد کړل؛ خو د وینا په سر کې یې د لاریونونو د نه ځپلو او د بشري حقوقو د ساتنې لپاره غږ وکړ.

پایله:

الف ـ له پورتنیو مواردو دا روښانه کېږي چې روسیه قزاقستان ته څومره ارزښت ورکوي. روسیه د اوسپني او اور په واسطه د قزاقستان د لاریونونو  مخنیوي کوي او دا لومړی ځل دی چې په  ۱۹۹۲ کال د دغه سازمان له را منځته کېدو راهیسې روسیه د ګډ امنیتي تړون ساتنه کوي. سره له دې چې د دې سازمان د مداخلې نه کولو په صورت کې ځینې هېوادونو زیان کړي او دا د قزاقستان د اهمیت حد په ګوته کوي.

ب ـ له بلې خوا په قزاقستان کې د امنيتي وضيعت ګډوډي د شوروي په شاوخوا سيمو کې د روسيې د نفوذ نوې کمزورتياوې را برسيره کړې دي او دا کار ښايي لويديځ دې ته وهڅوي چې روسيه له منځنۍ اسيا څخه تر بيلاروس پورې د بحرانونو په يوه دايره کې راګير کړي!

ج ـ سره له دې، امريکا په قزاقستان کې د خپل نفوذ د پراخولو په هڅه کې چې څه غوښتل، ترلاسه يې نه شوی کړی، داسې ښکاري چې امريکا د لاريونونو له پرمختګ څخه راضي وه، غوښتل يې د ننه د خپلو کسانو له لارې ګټه ترې پورته کړي او بيا دا وړتيا ولري چې له ننه او بهر څخه فشار راوړي.

د ـ د خواشينۍ ځای دی چې دښمنان د قزاقستان په څير اسلامي هېوادونو پر سر شخړه کوي، شتمنۍ يې لوټوي او له مقام او صلاحيتونو يې د خپلو ګټو لپاره کار اخلي. مشران يې يوازې د څوکيو او لوړو مقامو د ترلاسه کولو په فکر کې دي او سره له دې چې بډايه خاوره او توليدات لري، خلک په غريبۍ او کړاونو کې پرېږدي. د قزاقستان خلک مسلمانان دي او اسلام دوی ته امر کوي چې د کفارو د تسلط لپاره لاره پيدا نه کړي.

له همدې امله د نبوت پر منهج د راشده خلافت (د حق لارښوونکې خلافت) لپاره کار کول د دې هېواد او خلکو د ژغورنې لار ده. بيا به دا امت لکه څنګه چې تر ټولو غوره امت و، بيرته به را ګرځي او يو پياوړی او بريالی امت به وي.

( ولينصرن الله من ينصره ان الله لقوی عزيز)

«او الله به خامخا د هغه چا ملاتړ کوي چې د هغه ملاتړ وکړي. بيشکه الله زورور او غالب دی» (الحج:۴۰)

۱۲ د جمادي الثاني ۱۴۴۳ هجري

۲۰۲۲ـ۱ـ۱۵ زېږديز